# د اولسي نکلونو قيصه ايز روايت او ملي هېنداره

## Pashto folkloric tradition of storytelling and “Milli Hindara”

حافظ رحمت نيازی*
ډاکټر کليم الله بړېڅ♣
ډاکټر محمد عثمان توبه وال♥

**Abstract:**

Folk romances have a figurative importance in the study of oral traditions of the people. It embedded the metanarrative and unfolds the relics of cultural history that is mainly instrumental to reconstruct and correct historical and cultural accounts. In this paper, the author has traced back four folk romance narratives that are published in the Pashto journal Olas. After casting cursory glance over the tradition of storytelling, the author has focused on the comparison in the text of the published stories to the reckoned book “Milli Hindara” compiled by Muhammad Gul Noori.

اولسي قيصې د پښتو د اولسي ادب يوه داسې درنه پنګه ده چې د پښتنو د ژوند له وړومبۍ ورځې تر ننه پورې د هغو ثقافت، تهذيب، تمدن، تاريخ او تاريخي پېښې په منظوم، منثور او خصوصاً په اولسي قيصو کښې يې د پښتنو هرڅۀ په خپله لمن کښې خوندي ساتلي دي، يوازې دا نۀ چې پښتنو خپل دغه اولسي ادب ته زياته توجه ورکړې ده بلکې نورو قامونو هم خپل فولکلوري ادب او خصوصاً نکلونو ته خصوصي توجه ورکړې ده.

"په تاريخي لحاظ "د قصې اورولو او اورېدلو روايت ډېر پخوانی دی، ځکه چې قيصې خپل سفر د تهذيب د ابتدائي نقشونو سره سم پيل کړی دی، چې د تحريري منظومو قيصو روايت پنځۀ نيم زره (5500) کاله زوړ دی او د دې ابتداءٔ د سميري يا سامري تهذيب د وختونو نه شوې ده، دغه تهذيب د دنيا د پخوانيو تهذيبونو نه يو دی، قيصه په خپل ابتدائي شکل کښې د انداز له رويه بالکل ساده وه، خو بيا د وخت تېرېدو سره سره دې د ارتقاء منزلونه سر کړل او نوي نوي اساليب يې خپل او اختيار کړل، پښتون تهذيب هم چې د دنيا يو زوړ تهذيب دی، خپلې قصې، حکايتونه، تمثيلونه، رومانونه او داستانونه لري، خو د دغې روايت ابتدائي کړۍ لاد تيارو په کومي کښې ده او مونږ دا نۀ شو وئيلی چې د

* PhD. Scholar, Departmnent of Pashto, University of Balochistan, Quetta
♣ Professor, Department of History, University of Balochistan, Quetta
♥ Director, Pakistan Study Centre, University of Balochistan, Quetta

پښتو ابتدائي قیصه کومه ده، البته په تحریري توګه د دغې روایت ابتدائي معلومه شوې کړی د نهمې صدۍ هجري سره تعلق لري. د نهمې او لسمې صدۍ هجري د ځنو پښتو حکایتي اثارو تذکره د پښتو ژبې نامتو محقق استاد حبیب الله رفیع داسې کړې ده:

" تر اوسه د پښتو لومړنی پېژندل شوی حکایتي اثر د بابړ خان کاکړ "تذکره غورغښت" ده چې د نهمې هجري پېړۍ په پای کښې کښله شوې او د غرغښت بابا او د نورو پښتنو لویانو او ولیانو خوارق او حکایات یې په کښې راوړي وو چې د دۀ له مړینې سره سمه ورکه شوې ده"(1).

د هر ادب ادبي اصناف چې په زرګونو کلونو زوړ تاریخ ولري نو د هغۀ له اهمیته هیڅ انکار نۀ شي کېدی او بیا په تېره فولکلوري ادبي اصناف خوځکه ډېر زیات د اهمیت وړ دي چې په دې کښې یوازې د پښتنو نۀ بلکې د نړۍ د اکثرو قامونو د تعمیر د دېوالونو دپاره فولکلوري ادب د بنیادي خښتې حېثیت لري، ښاغلی عبدالکریم بریالی په دې اړه لیکي:

"د دې افادیت د ژبې او ثقافت په ټولنیز تاریخ کښې او د معاشرتي ژوند د پېژندګلوي دپاره ډېر اهم دی، د ژبې له اړخه داسې توري په فولکلور کښې خوندي دي چې هغه د ژبې د پراختیا سوب ګرځي، دوېم زمونږ د ثقافتي مطالعې او ذهني پرمختګ دپاره دا بنیادونه یو اهم رول لوبوي، چې مونږ د ماضي سره یو ټینګه رابطه ساتلې ده، د پخواني ژوند یو ساده او د خوند ځخه ډکه فضا او ماحول مونږ ته را ښایي، لکه چې د ماضي ژوند ډېر خوندور روایات لري او هغه په دې مترقي ژوند کښې هم نۀ شو پرېښودلی، دغه قدرونه د ثقافت د ټینګوالي دلیل دی، د هغه دور ماضي زمونږ د اوسني ژوند دپاره د بنسټ حېثیت لري، ځکه خو هر څوك د پخواني ژوند د قدرونو سره ټینګ ارتباط او اعتقاد لري، هغه د ملي تشخص نخښه ده، لوی قامونه هم د دې پخواني فولکلور سره نن هم مینه لري او په امریکه رنګه مترقي ملك کښې "دی جرنل آف امریکن فولکلور" په نامه یوه درنه مجله لري او اوس هم په هغه باندې څېړنې کیږي"(2).

لکه څرنګه چې د اولسي ادب ټول اصناف پر خپل ځای اهمیت لري خو اولسي قیصې په دې د زیات اهمیت وړ دي چې دا د پښتو اولسي ادب یو خوندور او خوږ صنف دی، دغه قیصې په پښتو کښې نورو ډېرو فولکلورستانو هم لیکلې دي خو په دې د لیکوالانو اتفاق دی چې د محمد ګل نوري په ملي هینداره نومې کتاب کښې چاپ شوې قیصې د نورو ټولو قیصو په نسبت خوندورې او بشپړه قیصې دي. دا هغه قیصې دي چې قیصه خو د محمد ګل نوري وي خو عام اولس په منظوم ډول یا په اختصار سره لیکلې دي او په مجلسونو کښې یې وایي، هم دغه نکلونه دي چې د پښتنو حجرې یې له کلونو راهیسې تودې ساتلې دي، له نته ځخه دېرش کاله له مخه زما په یاد دي چې خلقو به دغه قیصې منظومې کړې وې او په باندارو او مجلسونو کښې به یې په ترنم سره اورولې. یا به یې د ټېپ په کېسټونو کښې د ملي هینداري دغه خوږې قیصې ږغولې، له هغه وخته تر نته پورې ډېرې قیصې زما اوس هم یاد دي، خو دا اوس چې ما د پي ایچ ډي تهیسېز لیکل او د اولس مجلې کوټې په پخوانیو مجلو مې نظر تېروی نو په دغه

ذکر شوي مجله کښې مې د محمد ګل نوري څو مشهورې قيصې په اولس مجله کښې په بدل شوي شکل کښې تر نظره شوې، دا مې د ځان ذمه واري ګڼله چې د محمد ګل نوري په نکلونو کښې د ليکوالو لاسوهنه يا تېروتنه په ګوته کړم او يوه تحقيقي نکته و څېړم هغه دا چې د محمد ګل نوري څلور نکلونه په اولس مجله کښې په لنډ ډول چاپ شوي دي، هسې خو د کورس په کتابونو کښې ډېر ځله داسې شوي دي چې د ملي هيندارې نکلونه په لنډ ډول چاپ شوي دي خو د نکل خپل هيئت او شکل په خپل ځای برقرار پاته وي، خو په دغه مجله کښې د محمد ګل نوري ځنې چاپ شوي نکلونه په خپل اصلي شکل نۀ دي پاته شوي بلکې په ځنو نکلونو کښې روغ روغ پېراګرافونه ليکوالانو ورګډ کړي دي او په ځينو نکلونو کښې اهم کردارونه بدل شوي دي او په ځينو نکلونو کښې د کردارونو نومونه بدل شوي دي. که دا په دې نيت شوي وي چې د نکل خوند يو په دوه کړي نو هم په ادبي او علمي ميدان کښې هيڅ ليکوال ورته اجازه نۀ ورکوي، د ليکوال خپل تخليق دی او خپل تخليق ليکوال ته د خپلو اولاد غوندې حېثيت لري هغه ته چې ورومبنی کوم صورت او شکل خدای پاك ورکړی وي هم هغه شکل يې خوندور وي او که يو تخليق په خپل ذات کښې په هر لحاظ بشپړ وي او بيا نور ليکوال په کښې اضافې وکړي او هغه اضافې پر ځای د دې چې تخليق ښايسته کړي نور يې هم ښايست ته تاوان ورسوي، نو زما په خيال داسې غټه تېروتنه په هيڅ صورت کښې بايد چې و نۀ شي، او د محمد ګل نوري د ملي هيندارې د نکلونو د بشپړتيا په اړه خو پوهان ليکي چې:

"دلته به د هغو قصو ذکر بې ځايه نۀ وي کومې چې د نورو ژبو نه پښتو ته را اړولې شوې دي، ليلی مجنون، شهزاده بهرام ګل اندامه، رسم او سهراب، ګل صنوبر، يوسف زلېخا، شاه و ګدا، شېرين فرهاد، سوهني مهينوال، سسي پنو، ګنبد شام، چهار دروېش، طوطي مينا، الف ليله، حاتم طائي، امير حمزهؓ، او داسې نورې قيصې، ولې د دې ټولو قصو او داستانونو په مقابله کښې چې د پښتو ژبې خپل روماني داستانونه کوم خوند لري هغه په ټکو کښې نۀ شي بيانېدی، د غوره والي يوه غټه وجه يې دا هم کېدی شي چې دا داستان د پښتني چاپېرچل خپل پيداوښت دی په دغو داستانونو کښې ادم خان درخانۍ، فتح خان رابيا، موسیٰ خان ګل مکۍ، تور دلی او شهي، ښادي جان بيبو، لکه يوسف، محبوبا او جلات د لوستو يا اورېدو سره تعلق لري، په دغو اکثرې قصې "پٹھانوں کے رومان" او "چناب سے پدماتک" "چٹانیں اور دمان" کښې شته"(3).

"خدای دې جنت ورکړي اروابناد محمد ګل نوري ته چې يو شمېر نکلونه يې په کتابي بڼه را غونډ کړل او ملي هېنداره نوم يې ورباندې کښېښود، په دغه کتاب کښې زياتره هغه مهم نکلونه خوندي شوي دي چې د پښتونخوا په هره برخه کښې ژوندي او محفلونه پرې تاوده دي. دغه نکلونه په رښتيا هم د پښتو نکلونو غوره نکلونه دي ځکه خو دغه کتاب په اولس کښې ډېر ژر ځای جوړ کړ، څرنګه چې په ناليکلې بڼه کښې دغه نکلونه په اولس کښې مقبول وو، دغسې په کتابي بڼه کښې هم په درنه سترګه ورته وکتل

شول، خلقو ولوستل او لولي يې، درواغ به نۀ وي که څوك ووايي چې د رحمان بابا له ديوانه پس د پښتو په کتابونو کښې ملي هېنداره هغه کتاب دی چې زيات چاپ شوی او خرڅ شوی دی، په دې پسې مونږ دا هم ور زياتولی شو چې ملي هېنداري که هر څو په نړيواله کچه د الف ليله په شان نوم نۀ دی ايستلی، خو د پښتني نړۍ الف ليله مونږ په پوره زړۀ ورته وئيلی شو"(4).

له پورتنۍ حوالې معلوميږي چې د نورو قيصو په مقابله کښې د پښتو ژبې خپل روماني داستانونه چې کوم خوند لري هغه په ټکو کښې د بيانېدو امکان نۀ لري خو بيا هم د محمد ګل نوري په ملي هېنداره نومې کتاب کښې داسې نکلونه موجود دي چې ليکوالانو په کښې روغ روغ پېراګرافونه اضافه کړي دي او هغه دومره مشهور نکلونه دي چې د اکثرو پښتنو په ياد دي چې يو په کښې مومن خان او شېرينو دويم موسىٰ جان او ولي جان دريم طالب جان او ګلبشره او څلورم ادم خان او درخانۍ نومې نکل دی. دلته هغو اضافي پيراګرافونو ته ستاسې پام راګرځوم. د طالب جان او ګلبشرې په نکل کښې ليکوال ليکي:

"د ژمي اوږدې او لويې شپې دي، باران وريږي، ورسره د واورې څخملي هم شته، د مځکې خړ او سپېرۀ مخ د واورې په سپين څادر کرار کرار وډريږي خلق خورا خوشحاله دي چې ربه! داد دي مه شه اوښتی، زمونږ اعمال وګوره او دا په شېبو شېبو بارانونه وګوره اوس نو که خدای کول کال به اباد شي.... د کلي ځوانان هم د باران دپاره پرله پسې يوه هفته "سپين ږيرك" کړی ؤ او کلي په کلي ګرځېدۀ له خلقو يې د هغو د وس و توفيق مطابق له چا د "لاندي" برخه راوړې له چا پيسې او له چا وړۀ، دا ؤ چې نن يې خورا لوی خيرات کړی ؤ، د شا و خوا کلو طالبان، ملايان او خواران او غريبان يې راغوښتي وو، ډوډۍ وخوړل شوه د نور باران دپاره ملايانو دعاوې وکړې، اخير چې سپين ږيري او مشران کورو ته ولاړۀ، نو ځوانانو په کومو کښې چې طالبان هم شامل وو، سره را غونډ شول چا چې د غزلو شوق درلود هغه ابلې خونې ته ولاړۀ خپلې غزلې يې وئيلې او چا چې د نقل اورېدو خواهش درلود هغو د کلي مشهور نقلچي "نورك ماما" راګير کړی چې نقل راته وکړه، هغه خورا ځان سره دلې او دورې کړې خو ځوانانو چرې پرېښوو اخر هغه وئيل ښۀ نو کوم نقل درته وکړم، په اميانو کښې بې اتفاقي پيدا شوه چا وئيل د فتح خان بړېڅي غه چا وئيل د ادم خان و درخانۍ غه، خو طالبان کوم چې ټول په يوه خوا وو، هغو د ملا عباس او ګلبشرې د نقل فرمائش وکړې. دا ځکه چې هغه هم طالب ؤ، له دې سوبه طالبانو بازۍ وګټله، او نورك ماما نقل شروع کړې. ټولو غوږ ورته نيولی ؤ، د نقل دپاره شپون خامخا وي او هغه شامك وټاکل شو.

(نورك ماما وايي) تاسو وايه ښۀ بچيانو! (ملا شامك وايي ښۀ مامکه!) چې يو باچا ؤ باچا مو خدای ؤ تر خدای را لاندې يو کوچنی باچا ؤ، د خدای په دومره لويه خدائي کښې او د هغۀ په باچهي کښې هغه يکې يوه لور درلوده چې ګلبشره نومېده، دا نجلۍ نو خورا ډېره پر ګرانه وه، داسې پر ګرانه وه چې روح يې ورسره ختلی، دا نجلۍ چې د پنځو شپږو کالو شوه نو يې ماجت ته لېږل شروع کړۀ نجلۍ خورا پوه او ځيرکه وه، تر استاد لا په سبق کښې مخکښې مخکښې تله... په هم دې ماجت کښې يو وړوکی طالب ؤ

چې نوم يې عباس ؤ، دا هلك خورا ښايسته ؤ داسې ښايسته ؤ چې سارې يې نۀ درلود ، د شهزادۍ او عباس په دې کوچنيوالي يو له بل سره داسې مينه پيدا شوه چې که به چرې د باچا لور په څۀ وجه يوه ورځ غير حاضره شوه نو عباس به دلته ناجوړه شو او د ګلبشرې به کور تبه شوه"(5).

په پورتنۍ حواله کښې دغه ذکر شوې ټولې خبرې د طالب جان او ګلبشرې په هغه اصلي نقل کښې نۀ دي راغلې کوم نقل چې په ملي هېنداره کښې محمد ګل نوري راوړی دی، خو دا بېله خبره ده چې قيصه هغه کوي کومه چې د طالب جان او ګلبشرې په نقل کښې کېږي. د دغه نقل پيل د ملي هينداړې په نکلو کښې محمد ګل نوري داسې کړی دی:

"ملا عباس او ګلبشره. [د نکل نوم دی]

ته وا ښۀ! چې ؤ يو سوداګر ؤ، درې يې زامن وو، دوه زامن يې له يوې ماينې څخه وو او يو زوی چې عباس نومېدی د ګرانې ماينې څخه يې ؤ، د دې سوداګر خورا ډېره دنيا وه، و هيڅ شي ته نۀ ؤ اړ، دغه د ګرانې ماينې زوی يعني عباس يې په مسجد کښې پر ملا پر سبق کښېناوۀ، نور د دنيا کار يې نۀ په کاوۀ، په هغه نورو زامنو يې سوداګري کوله، تجارت يې په زده کاوۀ، دا هلك هم خورا د سبق او د علم شوق درلود ، ګرده ورځ به يې سبق وايۀ.

په دغه مسجد کښې يوه د باچا لور ګلبشره نومېږي دا هم پر ملا سبق وايي، څۀ سر دې ګرځوم دا هلك چې عباس نومېږي او د باچا لور ګلبشره په دغه کوچنيوالي سره مين شول، څۀ سر دې ګرځوم عمر دی تېرېږي څو دواړه غټ شول، مګر په سبق کښې ګلبشره تر تېره وه، ولې چې هغه تر دۀ د مخه لا پر سبق کښېنستلې وه، په دې مابين کښې سوداګر خدای وژلی ؤ مړ شو، پس له څو عمره چې د پلار پاتا يې واخستله شوه، دغو نورو ورونو يې بد ورسره کول. سبق ته يې نۀ پرېښو، وئيل راشه، زمونږ کار کوه، عباس ډېر تنګ شو مور يې ورته وئيل چې زويه! راشه خپل وېش ځنې وکړه، ولاړ به شو يو بل ځای ته، تۀ به هم خپله سوداګري کوې اوس نو بس په خپل لمانځه او اوداسه پوه شولې دغه د خپل پلار سوداګري کوه.........(6).

اوس له پورتنيو دواړو حوالو څخه څرګندېږي چې د لومړۍ حوالې ټولې خبرې د محمد ګل نوري د نکلونو په مشهور کتاب ملي هينداره کښې د طالب جان او ګلبشرې يا د ملا عباس او ګلبشرې په نکل کښې يو مخ نۀ شته، له دې راوړل شوي پېراګراف وروسته نورې هم ډېرې خبرې شته چې هغه په اصلي نکل کښې نۀ معلومېږي، او دا د ښاغلي ابو الخير ځلاند تخليق دی چې د نکل په وړومبي سر کښې پسې لګول شوی دی. تر کومه حده چې د ضرورت خبره ده د هغه اندازه لوستونکي خپله کولی شي چې آيا دغه پېراګراف چې په نکل پورې تړل شوی دی ضرورت يې ؤ که يا؟ او په نکل کښې يې خوند پيدا کړی دی او که يې هسې قيصه نوره هم سره اوږده کړې ده؟. دغه حال د يو بل مشهور نکل مومن خان او شېرينو دی

چې محمد ګل نوري يې پيل څنګه کړی دی او ښاغلي رومانشاه يې څنګه پيل کړی دی، د ښاغلي رومانشاه د نکل پيل داسې شوی دی:

"مومن خان او شېرينو [د نکل نوم دی].

مينه چې کله د زړۀ په نازکه دنيا کښې ځان ته د هرڅۀ نه بېله جونګړه جوړه کړي، د هر څۀ نه بې خبره په کښې داسې استوګنه کوي چې بس يو دغه ځای خپل پوره د مقصد پوره ګڼي او د دنيا د جم جګړ سيلۍ طوفانونو بيا هيڅ پرواه نۀ کوي، هم دغه جونګړه کښې په خپل تکميل پسې د وينو اوښکو ډيوې بلوي، هغه بېله ده چې د زمانې د تېزو او تندو سيلو په ضد کښې د جونګړې ټوله دنيا ورانه او تس نس شي، داسې ډېر مثالونه اوس هم د سترګو د وړاندې راځي چې مينه په کښې بې وسه او بې اختياره د بل په غېږه کښې سترګې پټې کړي او د فنا په لوی درياب کښې د همېشه دپاره ډوبه شي، دا د چا د وس خبره نۀ وي، دې کښې د چا لاس کار نۀ شي کولی، هرکله چې يو مين خپله مينه په خپل زړۀ د سوو سره ګرځوي، تل پرې سوځېږي او هيڅ کله يې مينه نۀ نصيب کېږي. څومره ډول به يې ؤ چې د مينې خاوندانو د مين د مينې قدر کولی او د هغۀ مينه يې هغۀ ته په داسې مينه ورکولی چې ټول عمر ورته د مين زړونو دعا ختې، دا يوازې د نن خبره نۀ ده دا سلسله د پخوا نه داسې را روانه ده او وخت په وخت کښې ډېر ځلمي او پېغلې ارماني د تورو خاورو لاندې شوي دي، چې په هغو کښې د مومن خان او شېرينۍ قصه هم ده، وايي چې د کندهار په خوا و شا دوه وروڼه اوسېدل، د قام مشري د دوی کور کښې وه، مشر ورور اخر مشر ؤ، نو قام دی مشر ګرځولی ؤ، مشر ته خدای اووۀ زامن ورکړي وو او لور يې نۀ وه، کشر ورور ميرات ؤ، نۀ يې لور وه او نۀ يې زوی، مشر ورور به د کشر ورور په دې حالت ډېر زهېرېدو، خو څۀ يې کړی وای، د قدرت کارونه وو، هيڅ وس يې نۀ رسېدو، خبرې اترې يې کولې چې د کشر ورور د خولې نه ناڅاپه غوندې يو سوړ اسويلی لاړو، مشر ورور ترې پوښتنه وکړه چې وروره ولې؟. يوه شېبه هغۀ غږ نۀ کولو خو اخر د خولې نه يې ووتل چې روره! هسې سوچ کوم چې زما د مرګ نه پس به زۀ بالکل ورك شم، هيڅوك د نوم اخستو به مې نۀ وي کنه، څۀ به ښۀ وای که خدای ما ته يوه لور راکړې وای، زوی خو لا لويه خبره ده، او ما دا خپله وروري تا سره پخه کړې وای، ورور يې لږ د وروستۍ خبرې په مطلب و نۀ رسېدو، او تپوس يې ترې وکړو چې څنګه پوخوالی وروره!. او هغه ورته په جواب کښې ووئيل چې: "دا کنه! چې ما به خپله لور خپل وراره ته ورکړې وای خو څۀ وکړم هيڅ علاج يې نۀ راځي، نو ورور يې پوره په مطلب پوه شو او دا يې پوخ لوظ و قول وکړو چې که الله يو ته لور او بل ته يې زوی ورکړو نو يل بل ته بې ورکوو، د خدای تعالیٰ کارونه وو، کشر ته خدای زوری ورکړو او مشر ته د ګل په شان لور"(7).

دغه د مومن خان او شېرينو د نکل پيل محمد ګل نوري داسې کړی دی:

"دوه وروڼه وۀ، دغه مشر ورور يې د قوم مشر ؤ او اووۀ زامن يې درلودۀ، د مشر زوی نوم يې زبردست ؤ، هغه کشر ورور يې نۀ زوی او نۀ لور درلوده، د دې وروڼو مابنې دواړې برالبې شوې، دغه مشر و کشر

ورور ته ووئیل چې که ستا لور وزیږېده او زما زوی نو ستا لور به زما و زوی ته راکوې، او که زما کره لور وشوه او ستا کره زوی پیدا شو زۀ ستا زوی ته لور درکوم، کشر ووئیل ښۀ دی. کارونه د خدای دي چې نۀ میاشتې نۀ ساعته تېر شو خدای و کشر ته زوی ورکړ او د مشر لور وزیږېده"(8).

دغه دواړه حوالې که په غور وګورو نو په دغه وروستۍ جمله کښې د دواړو نکلونو خبره یو ډول مخ په وړاندې ځي وروسته د نکل خبره څکه نۀ کوو چې وروسته د رومانشاه نکل صحیح دی چې په لنډ ډول وړاندې شوی دی او داسې نمونې په ډېرو کتابونو کښې پیدا کیږي، خو تر وروستۍ جملې چې "کارونه د خدای ؤ" له مخه د رومانشاه دوه درې پیراګرافونه د مومن خان او شېرینو له نکل سره هیڅ تعلق نۀ لري، دغه لومړۍ خبرې د رومانشاه له خوا پرې اضافه شوې دي، او د نکل اصل شکل هم هغه دی چې محمد ګل نوري په کوم ډول پیل کړی دی. دا ځکه اصل شکل کېدای شي چې ښاغلی رومانشاه خپله وایي "وایي چې د کندهار په خوا و شا دوه ورونه اوسېدل" او دغه قیصه چې د کندهار له سیمې سره تعلق لري نو اصلي شکل یې هم د کندهار اوسېدونکی بیانولی شي او د کندهار اوسېدونکی محمد ګل نوري دی، چې هم د کندهار اوسېدونکی ؤ او هم د کندهار له اولسي قیصو څخه خبر ؤ. اوس نو د رومانشاه دغه پیراګرافونه هم لوستونکو ته پرېږدم چې څنګه دي راوړل یې په کار ؤ که یا؟.

دغسې د محمد ګل نوري د ملي هېنداري نومې کتاب څخه یو بل نکل د موسیٰ جان او ولي جان دی چې په اولس مجله کښې یې ښاغلي عبدالقادر خان داسې پیل کړی دی:

"موسیٰ خان ګلمکۍ. [د نکل نوم دی]

په دنیا کښې حقیقي مینه محبت یو داسې څیز دی چې د حقیقي مین نوم همېش دپاره ژوندی او مشهور کړي، زمانې وشوې چې لیلی مجنون، فرهاد شېرینۍ، ادم خان درخانۍ، سوهني مهنوال، موسیٰ خان ګلمکۍ او هیر رانجها مړۀ دي. د قبرونو پته یې هم نۀ لګي، ولې نومونه یې ژوندي دي، په مثالونو کښې پېش کیږي، غزل کښې ستایلي کیږي او د ټولو نه لویه خبره دا ده چې د داسې عاشق معشوقو نوم په عزت سره واخستی شي. دا خلق په ژوندوني دنیا لېوني بلل، سپك یې ورته کتل خو پس له مرګه د دوی هغه تکلیفونو، مصیبتونو او سختنو دنیا په دې مجبوره کړه چې د دې پاکو عاشقانو یاد تازه وساتي، ربنتیا دا دنیا مرده پرست ده.

د کوټې بلوچستان په علاقه کښې فېروز او نوروز دوه ورونه وو، د اصل نه ترین وو او سوداګري به یې کوله، د فېروز لوښې وې د یوې نوم ببۍ او د بل ګل مکۍ وه، په ببۍ باندې د کلي ملك چې نوم یې سهېلی ؤ مین ؤ او دا هغۀ ته کوزده شوې وه. موسیٰ خان د ګل مکۍ د ترۀ نوروز زوی ؤ او په وړوکوالي کښې ګل مکۍ د موسیٰ خان په نوم شوې وه، څۀ وخت چې ګل مکۍ د دیارلس څوارلس کالو شوه نو د ښایست یې ډېر شهرت وشو.

سهېلی د ګل مکۍ د خور چنغول یو ډېر حرامي سړی ؤ، هغهٔ چې ګل مکۍ ولېده نو نیت یې دې ته خراب شو او موسیٰ خان یې دومره تنګ کړو چې هغه ناچاره شو او وطن یې پرېښنو او بل ځای ته لاړ"(9).

دغه د عبدالقادر خان په قلم لیکل شوی موسیٰ خان او ګل مکۍ نکل محمد ګل نوري داسې لیکلی دی:

"موسیٰ جان او ولي جان [د نکل نوم دی]

ته واښهٔ!

په پخوا وختو کښې یو باچا ؤ د دې باچا نوم سهېلی ؤ، ځلوښنت ماینې یې درلودې، د دغه باچا په وختو کښې دوه وروڼه وو چې د یوهٔ نوم فېروز ؤ د بل نوم نوروز ؤ، د دې فېروز اووهٔ لوڼې او د نوروز اووهٔ زامن وو، دوی دواړو سوداګري کوله، خورا ماړهٔ او دولتمن وو، خورا ډېره دنیا یې درلوده، یو وخت فېروز او نورو دواړه په سوداګري ولاړل، دوی چې تلل د دواړو ماینې حمل دارې وې، دوی پر لارې سره ووئیل چې هر یوهٔ ته چې خدای زوی ورکړي او هغهٔ بل ته یې لور ورکړه دغه لور به یې د دې بل د زوی وي"(10).

د پورتنیو خبرو په رڼا کښې وئیلی شو چې د موسیٰ خان او ګل مکۍ خاندان اصلاً په کوټه کښې نهٔ بلکې د بلوچستان په مشهور ښار هرنائي کښې تېر شوی دی، او دغه د هرنائي خبره محمد ګل نوري هم کړې ده او د هرنائي خلق اوس هم مني چې د ولي جان او موسیٰ جان قبرونه په هرنائي کښې شته اوس هم خلق ورته د دعا دپاره راځي، او دویمه خبره دا چې دغه نکل په اصل کښې د موسیٰ خان او ګل مکۍ په نامه نهٔ بلکې د موسیٰ جان او ولي جان په نامه مشهور دی، او ولي جان په نکل کښې هغه زورور کردار دی چې ټول نکل ورباندې راګرځي او د نکل ټول خوند هم دغه د موسیٰ جان او ولي جان په بې غرضه ملګرتیا کښې خوندي دی، او د ولي جان په روزمره ژوند کښې د پښتنې روایاتو او اقدارو ډېرې نمونې موجودې دي، غالب ګمان دا دی چې په دغه نکل کښې اصلاً د اخلاص د ملګرتیا درس موجود دی، د موسیٰ جان او ګل مکۍ د مینې داستان ثانوي حېثیت لري او محمد ګل نوري هم دغه نکل د موسیٰ جان او ولي جان نامه ته منسوب کړی دی. له دې ټولو خبرو پرته د عبدالقادر خان د لومړي پېراګراف د موسیٰ جان او ولي جان له نکل سره هیڅ تعلق نهٔ شته او هسې یې د نکل د تمهید دپاره څو جملې نورې اضافي کړې دي.

د موسیٰ جان او ولي جان له نکل پرته یو بل مشهور نکل د ادم خان او درخانۍ دی، دغه نکل که څهٔ هم د پورتنیو نورو نکلونو غوندې په کښې اضافې نهٔ دي شوې خو د نکل ځینې ځایونه د ملي هینداري له نکلونو سره توپیر لري، خصوصاً د ادم خان او درخانۍ لومړی دید چې سره کیږي او یو له بل سره یې زړونه د مینې په رنځ اخته کیږي دغه لومړی دید یې ښاغلي لیکوال ماسټر اسماعیل قمر داسې بیان کړی دی:

"یوه ورځ درخانۍ د باتور آهنګر دوکان ته د چرخي سازولو دپاره راغلې وه، ادم خان هم د خپل اٰس د نعلونه وهلو له ورغلی ؤ، دا وړومبنۍ موقع وه چې د دواړو سترګې ولګېدې او مینه یې پیدا شوه، دا خاموشه مینه تر یو وخته پورې روانه وه، خو اخر دغه مینه د درخانۍ د ترور لور د بسۍ په وادهٔ کښې

زياته شوه، د بسې په وادهٔ کښې درخانۍ هم راغلې وه، د خپل ترور په کور درخانۍ خپل ښايست پېغلتوب او حيا داسې په ستر کړې وه، چې د کلي جونو ته به يې هم مخ نۀ لوڅولو. ادم خان هم په وادهٔ کښې بللې شوې ؤ، وايي چې ادم خان د ښکار او د رباب ډېر شوقين ؤ، داسې رباب به يې واهۀ چې ناست مجلس نه به لکه د مړو غږ نۀ خوت، څۀ وخت چې د پير صالح پير په وينا ادم خان په رباب ګوتې پورې کړې نو درخانۍ دې لمبو ته ټينګه نۀ شوه خپل پېغلتوب، ښايست، ستر او حيا هرڅۀ يې وغورزول او په لوڅ مخ د مجلس ننداري ته ودرېده د ادم خان او درخانۍ بيا د يو بل سره کاتۀ وشو.....(11).

د ماسټر اسماعيل قمر له نکل څخه معلومېږي چې د ادم خان او درخانۍ د جدائي په وخت کښې دوه ملاقاتونه شوي وو، لومړی ملاقات لکه چې په پورتنۍ حواله کښې تېر شو، د آهنګر په دوکان شوی ؤ دوېم ملاقات يې د بسۍ نومې پېغلې په وادهٔ کښې د ادم خان د رباب وهلو په وخت کښې شوی ؤ. هم دغسې د دوېم ملاقات خبره محمد ګل نوري هم کوي چې دوېم ملاقات يې د بسۍ په وادهٔ کښې شوی ؤ، خو لومړی ملاقات چې اسماعيل قمر وايي د آهنګر په دوکان شوی ؤ محمد ګل نوري داسې وايي:

"يوه ورځ ادم خان په کتاب کښې بند پاتې شو، هرڅۀ پر ملايانو وګرځېدی چا دغه مسئله نۀ شوای ورښوولی، وروسته چا ورته ووئيل چې د تاوز خان ملا خورا لوی عالم دی، په علم کښې ساری نۀ لري، تا ته دغه مسئله بې له هغه بل يو نۀ شي درښوولی...... ملا پوښتنه ځنې وکړه چې ځوانه! څنګه راغلی يې، ادم خان ورته ووئيل چې د کتاب په يوه مسئله کښې بند يم، که دې دغه را وښووله، ملا وئيل ښۀ دی چې لمونځ وکړم نو به کتاب سره وګورو، يو ګړی وروسته درخانۍ چې اوس ښېخې پېغلتوب ته رسېدلې ده، کتاب يې په څنګ کښې دی راغله، کتابونه يې ټول اوس نو تمام کړي دي، په ټولو کتابو او علمو پوه شوې ده، کښېنستله چې داسې يې وکتل يو ځوان يې وليد چې په فکر کښې ډوب ولاړ دی، ملا اوداسه ته ولاړ، د ادم خان چې پر درخانۍ سترګې ولګېدې دی هم د دې په مينه کښې ډوب ولاړ، دواړو يو د بله زړونه سره بايلول......(12).

د پورتني نکل نورې ټولې خبرې سره نژدې دي خو بيا هم ړومبی حېثيت د محمد ګل نوري نکل لري، ځکه چې هغه چرې هم په نکل کښې مشکوکې کلمې نۀ دي راوړې او اسماعيل قمر خپله د نکل په سر کښې وايي چې: "له دې وجې د ادم خان او درخانۍ د مستقل استوګنې پته لږه ګرانه ده، او زيات تفصيل غواړي.

د ادم خان او درخانۍ له نکل پرته يو بل اهم نکل د جلات خان او شمايلې دی چې د بلوڅي ژبې يو مشهور ليکوال عبدالرحمٰن غور د يوۀ مضمون په مينځ کښې راوړی دی، دا هغه نکل دی چې د نورو پورتنيو نکلونو په نسبت د نکل يوه وړوکې برخه له اصلي نکل سره نژدې ده، نور د ملي هېنداري ټول نکل مسخ شوی غوندې معلومېږي، د نکل په کردارونو کښې فرق دی، د ځينې کردارونو نومونه غلط دي او د نکل چې کوم خوند دی هغه يې داسې سره ګډ وډ کړی دی چې نکل په ډېر بې خونده انداز پای ته

رسيږي، پيل يې هم د محمد ګل نوري له نکل سره توپير لري او د عبدالرحمٰن غور له دې نکل پرته په اولس مجله کښې نور هم ډېر مضامين خپارۀ شوي دي چې ځينې له تاريخ سره اړه لري او ځنې له پښتني دود دستور او پښتني رواياتو سره تعلق لري، او په دغه موضوع د بختنامې د قيصې تر عنوان لاندې زما يوه مقاله بله هم چاپ شوې ده، هلته هم اندازه کيږي خو دلته د جلات خان او شمايلې د نکل نمونه او مختلف فيه خبرې وړاندې کوم. عبدالرحمٰن غور ليکي:

"جلات محبوبه [د نکل نوم دی]

د پښتو ژبې روماني نقلونه هم د بيان د ښکلا بهترينې نمونې دي، د دغو نقلونو له مطالعې سره سم زمونږ په ذهنونو کښې د پښتو د مېړاني مروت او اخلاص و غيرت عکس وګرځي، ميمونۍ، موسىٰ خان ګل مکۍ او ادم خان درخانۍ په شان جلات محبوبه هم د پښتو له مشهوره روماني لوک نقلونو څخه يو دی، دا د زړې زمانې نقل دی بيا هم خپل د افاديت له لحاظه نن هم مقبول دی.

نامسلم نومې يو ظالم باچا ؤ يوه حور جماله او ډېره ښکلې لور يې درلوده چې نوم يې محبوبه ؤ، د دې باچا څو ښځې وې لېکن خدای يو هم زوی نهٔ ؤ ورکړی، له دې وجې يې له خپلو لوڼو څخه کرکه کېدله، هغهٔ چې به هرکله هه د لور د زېږېدو خبر واورېد نو به دومره وخشمېدی چې له ستوني به يې ونيوه او مړه به يې کړه، خو څهٔ وخت چې محبوبه پيدا شوه نو هغه دومره ښايسته وه چې د ډېر ښايست له وجې د باچا ټولو ښځو په يوه صلاح يوې خفيې تهه خانې ته ولېږله او په پټه به يې د دې روزنه کوله.عمر تېرېدی محبوبه ځوانه شوه..... باچا د دې په ليدو حق حيران ودرېدی..... او په محل کښې يې يوه داسې کړکيچنه لاړ جوړه کړه چې سړی به په کښې ورکېدو، او هلته يې محبوبه په يوه پُر اسراره ماڼۍ کښې پټه کړه.... او اعلان يې جاري کړ چې څوك چې د محبوبې شوق لري نغاره دې وغږوي او په کړکېچنو دې ورګډ شي، هلته دې محبوبه پيدا کړي، هر چا چې شهزادګۍ پيدا کړه، شهزادګۍ به د هغهٔ وي خو که ناکامه شو نو به يې سر وهل کيږي. [يو وخت يو فقير د باچا لور ليدلې وه او باچا په خبر شو د مرينې حکم يې وکړ، فقير وتښتدی بل ملك ته ولاړ] په دې ملك کښې يې د محبوبې د بې پايانه ښايست داستانونه تېر کړل، د دې ملك د باچا نوم خونکار ؤ، د خونکار باچا اووهٔ ښايسته زامن ؤ د باچا لوی زوی چې د محبوبې دا داستان واورېدو نو بې ليدو باندې مين شو، او د بخت او طالع په بنياد د محبوبې ښار ته را ورسېد.... نغاره يې وغږوله له ناکامۍ پس ووژل شو...

اخير تر ټولو کشر ورور د ملا فقير محمد په مدد او د شاهي زرګر مهمندي په ښوولو لارو پټ په پټه ځان د محبوبې تر ځايه ورسوی، هلته محبوبه جلات خان ته ووايي چې سهار نغاره وغږوي او په کړکېچنو دې را ګډ شي او په وړومبني پېچ به دا ورته ولاړه وي، په دا سبا جلات خان نغاره وغږوله او په پېچونو ورګډ شو محبوبه ورته ولاړه وه او دا شان دواړه مينان سره يو ځای شوهٔ"(13).

د عبدالرحمٰن غور دغه ذکر شوی نکل رښتیا هم د جلات خان او شمایلې د نکل خلاصه بیانوي مګر لومړۍ خبره دا ده چې د محمد ګل نوري په ملي هېنداره کښې دغه نکل د جلات خان او محبوبه پر ځای د جلات خان او شمایلې په نامه لیکل شوی دی، دویمه دا چې غور صاحب د نکل کردارونه سره ګډ وډ کړي دي، په ملي هینداره کښې چې د کوم باچا لوڼه پیدا کیږي د هغۀ نوم خونکار دی، او چې زامن یې پیدا کیږي د هغۀ نوم مسلم دی، په پورتنۍ حواله کښې ددغو کردارونو نومونه د دې عکس دي او له مسلم سره لاد نامسلم اضافه هم شوې ده، او وروسته په ملي هینداره کښې د شمایلې د ګټلو دپاره شپږ شرطونه ذکر شوي دي چې عبدالرحمٰن غور یو شرط ځینې را اخستی دی او هغه یې هم په لږ بد شکل کښې ذکر کړی دی. په نکل کښې نورې هم ډېرې نکتې شته چې دلته د ټولو ذکر کول مضمون اوږدوي، ورسره دا هم شوي دي چې عبدالرحمٰن غور د نکل لومړی پېراګراف له ځانه په ګډ کړی دی چې په اصلي نکل کښې شتون نۀ لري. دلته د محمد ګل نوري د نکل پیل درسره شریکوم او هغه شرطونه چې خونکار باچا د شمایلې د ګټلو دپاره لګولي دي وګورئ:

"جلات خان او شمایله [د نکل نوم دی]

ته وا ښۀ!

چې ؤ یو ډېر غریب سړی ؤ دوه زامن یې وو، یوه یې ماینه وه، د مشر زوی نوم یې خونکار ؤ او د کشر زوی نوم یې مسلم ؤ. نو دی دی او دوه زامن یې دي، د ورځې ولاړ شي و چوغکو ته دامونه ږدي، مرغان نیسي ښار ته یې راوړي، خرڅوي یې، خپل کفاف او ګوله په برابروي، او خپله شپه په تېروي، دې پلار یې ووئیل چې تر څو به دا ازارونه ګټم، او تر څو به دا ژوند غم ګلوم، ماینې ته یې ووئیل چې زۀ خو دغه غرۀ ته ځم ګوندي خدای وي چې یا مړ یا به موړ شم. خیر خو و غرۀ ته راغلئ په غرۀ کښې تمامه ورځ ګرځېدی خو څۀ یې نۀ کړۀ پیدا، اخر یې یوه تکه سپینه اګۍ پیدا کړه دا اګۍ یې را واخستله کور ته راغلی ماینې ته یې وئیل چې بل شی مې نۀ کړ پیدا دغه یوه اګۍ مې پیدا کړه را وا مې خستله...... [نکل ډېر اوږد دی د شمایلې له شرطونو یې وګورئ] باچا وئیل شرطونه یې دا دي:

(1) د اوسپنې کونده به د لرګي په تبر ماتوئ.

(2) د شمایلې ژړه غوا چې ښکر یې په الماسو کښې نیولي دي، دا به لوشئ.

(3) دغه غوا چې ولوشئ شیدې به یې درې واره په ځغاسته و بام ته خېژوئ.

(4) شګې او ایرږدن یې سره ګډ کړي دي نیمه خونه یې په ډکه کړې ده، دا به سره جلا کوئ.

(5) زمری به راولئ د باچا د زمري سره به یې جنګوئ، که یې دا زمری مات نۀ کړ هم یې بایلوله.

(6) د شمایلې د بنګلې لار به پیدا کوئ چې یعني د کومې خوا د دې د ناستې ځای ته لار ورځي"(14).

له پورتنيو حوالو معلوميږي چې د عبدالرحمٰن غور په ليکنه کښې د نکل پيل څنګه شوی دی او د محمد ګل نوري د نکل پيل څنګه شوی دی، او د خونکار باچا د لور شمايلې د ګټملو دپاره چې کوم پورتني پنځۀ شرطونه دي هغه د غور صاحب په نکل کښې بلکل نۀ شته او فقط وروستی شرط يې راوړی دی هغه هم د اصلي نکل له شرط سره توپير لري. اوس که څوك دا ګمان وکړي چې کېدای شي د عبدالرحمٰن غور نکل اصلي وي او محمد ګل نوري وروسته دا نکلونه ترتيب کړي وي، دا هم نۀ شي کېدای ځکه چې د محمد ګل نوري د ملي هېنداره د نکلونو لومړۍ برخه چې کله چاپ شوې ده هغه د عبدالرحمٰن غور او پورتنيو نکلو څخه ډېره وړومبۍ چاپ شوې ده. پوهان ليکي چې:

"د نکلونو د ټولولو په برخه کښې استاد محمد ګل نوري لومړی پښتون دی چې پښتو نکلونه يې په کتابي بڼه خوندي کړي دي. دۀ د دغو نکلونو لومړی ټوك د ملي هېنداره د لومړي ټوك تر سرليك لاندې په 1317 کال خپور کړ، او دويم ټوك يې هم د ملي هېنداره تر سرليك لاندې په 1325 کال خپور کړ او دريم ټوك يې هم د ملي هېنداره تر سرليك لاندې په 1352 کال کښې هغه وخت چې د دۀ د ژوند وروستۍ شپې ورځې وې د کندهار د احمد شاه بابا د کتاب چاپولو مؤسسې له خوا خپور شو"(15).

د محمد ګل نوري د وړومبني نکل ليکونکي په حقله ښاغلی حبيب الله رفيع ليکي:

"د پښتني فوکلور په باب هم په لومړيو وختو کښې ادبي انجمن (وروستنۍ پښتو ټولنې) څۀ نه څۀ کار وکړ او خصوصاً ښاغلي محمد ګل نوري د دې لارې پېشقدم ؤ چې د پښتني فولکلور په باب يې مقالې او حتٰی ځانګړې اثار خپارۀ کړل خو بل څوك حاضر نۀ شول چې دې لوی سيند ته ورګډ شي هم دا راز ځنې کسانو فولکلور د مزخرفاتو او چټياتو په نامه او تور مستقيما له صحنې څخه ويوست"(16).

د غوټۍ خاورې او ښاغلي حبيب الله رفيع له دغو پورتنيو حوالو څخه د محمد ګل نوري د نکلونو د اوليت څرکونه څرګنديږي خو وروسته غوټۍ خاورې هم د جلات خان او شمايلې نکل د عبدالرحمٰن غور غوندې د جلات او محبوبې په نامه ياد کړی دی او ليکي چې:

"همدغه راز د جلات او محبوبې په قيصه کښې هم د دغې مکارې بوډۍ رول جوت دی"(17).

## پايله:

فولکلوري اصناف که نثر وي که نظم او که بيا د هرې ژبې او هر قام وي له هغه سره د هغې ژبې د ويونکو ډېر څۀ تړلي وي يعني د هغۀ قام تاريخ، کلتور، جغرافيه، تهذيب او تمدن ټول له فولکلور سره ډېره ژوره علاقه لري، دلته هم د پښتو له اولسي نکلونو سره د پښتنانۀ قام تاريخي پېښې، تهذيب او روايات تړلي دي چې نمونې يې د ملي هېنداره په نکلونو کښې ټولې په نظر راځي، خو په پورته ذکر شوو ځنې نکلونو کښې داسې ګډوډې او اضافې شوې دي چې ځای په ځای يې د نکلونو

مقصد ته تاوان رسولی دی او ځای په ځای د نکلونو اصل بنه زخمي شوې ده، دلته تقریباً په هغو نکلونو څېړنیزه لیکنه شوې ده چې له نن څخه اتیا یا نوي کاله له مخه په چاپي شکل کښې میدان ته د محمد ګل نوري په ملي هېنداره نومې کتاب کښې راغلي دي. نو په دغو لیکل شوو نکلونو کښې لاسوهنه د چا تخلیق کار په تخلیق کښې لاسوهنه خو ده چې ده مګر که دا نکل په خپل اصلي شکل یا تر اصلي شکل هم خوندور وړاندې نهٔ شي نو له دې نکلونو سره چې د کوم قام ثقافتي اقدار او روایات هم تړلي وي، نو بیا له دې نکلونو سره د تړل شوي قام روایاتو ته د تاوان رسېدو پوخ یقین هم شته، دلته په دغه مقاله کښې د محمد ګل نوري له چاپ شوو نکلونو څخه څلور داسې نکلونه شامل دي چې هم دغه د لاسوهنې نمونې په دلیل سره وړاندې شوې دي، او هغه ټول نکلونه د اولس مجلې په بېلابېلو مجلو کښې د روماني داستانونو تر عنوان لاندې چاپ شوي دي، هغه نکلونه ذکر شوي دي او د لاسوهنې نمونې د دلیل په توګه د ملي هینداري له نکلونو سره مقایسه شوي او ذکر شوي دي. که دا نکلونه له دې لاسوهنې سره په دې نیت چاپ شوي وي چې د پښتنانهٔ اولس په کښې ګټه وي خو ښهٔ کار شوی دی او که نهٔ وي نو د سبا محقق دپاره هم دغه مقاله د رهنمائي سبب ګرځېدلی شي.

***

# حوالې


(1) عابد، عبدالله جان، (د مدون سریزه) بهرام شهزاده او ګل اندامه، تصنیف د زرداد جنډه خېل، داستان پبلي کېشنز پاکستان، پېښور اسلام اباد، جنوري 2015ء، مخ18.

(2) بریالی، عبدالکریم، سریزه د اولسي رنګزار تعارف، مشموله اولسي رنګزار، (د حضرت زېبر زېبر)، اولسي ادبي ټولنه مردان، جون 2003ء، مخ16.

(3) رضا، افضل، قصې او داستانونه، مشموله اولس مجله کوټه، مئ 1967ء، مخ42.

(4) درانی، دروېش، د پښتني ژوند کړۀ وړۀ، صحاف کتاب خانه ارګ بازار کندهار، افغانستان، 2014ء، مخ146.

(5) ځلاند، ابوالخیر، طالب جان او ګلبشره له قلمه د ابو الخیر ځلاند، مشموله اولس مجله فروري/مارچ، 1967ء، مخ117، 118.

(6) نوري، محمد ګل، ملي هینداره، صداقت خپرندویه ټولنه کندهار، افغانستان، 2012ء، مخ175.

(7) صیاد، رومانشاه، مومن خان او شېرینو، مشموله اولس مجله کوټه، جون 1964ء، مخ39، 40.

(8) نوري، محمد ګل، ملي هینداره، مخ130.

(9) عبدالقادر خان، موسیٰ خان ګل مکۍ، مشموله اولس مجله کوټه، مارچ 1962ء، مخ12،

(10) نوري، محمد ګل، ملي هینداره، مخ81.

(11) بنګش، ماسټراسماعیل، قمر، مشموله اولس مجله کوټه، فروري 1970ء، مخ24.

(12) نوري، محمد ګل، ملي هېنداره، مخ282.

(13) غور، عبدالرحمٰن، علاقائي رومانونه، مشموله اولس مجله کوټه، اکتوبر/نومبر 1969ء، مخ110، 111.

(14) نوري، محمد ګل، ملي هېنداره، مخ157، 158.

(15) خاورې، غوټۍ، د پښتو شفاهي ادبیات، د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز، کابل، 1362ش، مخ118.

(16) رفیع، حبیب الله، د خلکو سندرې، د افغانستان اکاډیمۍ د تاریخ او ادب ټولنه، افغانستان، 1349هـ، مخ2.

(17) خاورې، غوټۍ، د پښتو شفاهي ادبیات، مخ203.